**د افغانستان اسلامي جمهوريت**

**د عدليې وزارت**

# رسمي جريده

**فوق العاده گڼه**

- **د ا.ا.ج د سهيلی آسيا د آزادی ساحی سوداګريزی موافقتنامه (SAFTA) د الحاق پروتوکول**

**د خپريدو نيټه: د ۱۳۸۹ هـ.ش کال د غوی د مياشتی (۵)**

**پرله پسی نمبر (۱۰۱۹)**



ACKU

**په دې ګڼه کې:**

**۱- د افغانستان اسلامي جمهوریت د سهیلي آسیا د آزادی ساحه سوداګریزي موافقتنامه (SAFTA) د الحاق پروتوکول.**

ACKU

## د افغانستان اسلامي جمهوريت

## د سهيلي آسيا د آزادی ساحه سوداګريزي موافقتنامه (SAFTA) د الحاق پروتوکول

د سارک سازمان او د ده غړی هېوادونو له دې وروسته به د متعاهدو لوري په نامه يادېږي.

د سارک سازمان د څوارلسمي غونډې په نظر نيولو سره چې د اپريل (۳-۴) نېټه د ۲۰۰۷ ميلادي کال چې په نوي دهلي کښې دايره شوی، د افغانستان اسلامي جمهوريت د اپريل په (۳) نېټه د ۲۰۰۷ ميلادي کال د اتم غړي په حيث قبول شوی دی.

د افغانستان اسلامي جمهوريت د رعايت او احترام پر بنسټ د ټولو قوانينو، پرېکړو، اعلاميو، موافقتنامي او د سارک چارټر شامل شوی قطعنامي څخه موافقه لري.

همدارنګه د آزاد سوداګريزي د سهيلي آسيا موافقتنامه د ۲۴ مادو په پام کې نيولو سره د ذيدخل جوانب موافق او په لاندنيو برخو کې توافق وکړ:

۱- د افغانستان اسلامي جمهوريت د سهيلي آسيا ساحه سوداګريزي موافقتنامه (SAFTA) لوری دی.

۲- د افغانستان اسلامي جمهوريت وروسته د پروتوکول امضاء نه د (SAFTA) موافقتنامي ټولو حقوقي او التزامي شرايط ته متعهد ګڼل کېږي.

۳- د افغانستان اسلامي جمهوريت لکه نورو پروتوکول متعهد غړی د ګمرکي امتيازاتو څخه به ګټه اخيستی شی، او (b) او (d) د اوومه ماده د مندرجاتو سره د ګمرک د کاهش پروګرام چه د موافقتنامي ټول غړي او د متخصصينو د کميټي لومړی کيناستي سره چې د اپريل ۱۸-۱۹ نېټه د ۲۰۰۶ کال د داکي په ښار کې دايره شوې په توافق را ورسېدل.

۴- د افغانستان اسلامي جمهوريت د ګمرکي تعرفي د کاهش پروګرام په تطبيقولو کې لکه په دربيم پاراګراف نه شامل کېږي او هغه ګمرکي تعرفي چې په اول ضميمه کې شامل کېږي په مکمل ډول سره د عمل وړ دی.

۵- ټول متعاهد هېوادونه خپل ګمرکي امتيازات د افغانستان لپاره وروسته د پروتوکول امضاء نه په اختيار کې ورکوي، او هم دارنګه د ګمرکي د کاهش د تعرفي برنامه سره سم د افغانستان اسلامي جمهوريت او د متخصصينو کميټي لومړی کميټي چې د اپريل په ۱۸-۱۹ نېټه د ۲۰۰۶ ميلادي کال چې د داکه په ښار کې عقد شوې ده مرعی الاجراء کېږي او د عمل وړ به وي.

۶- د موافقتنامي دربيمه ضميمه د مندراجاتو سره سم چې هغه ميکانيزم دی، افغانستان په هغه صورت کې چې مقروض نه وي د خساره جبران به پريکوي، هم دارنګه د سريلانکا هېواد د څلور کالو، د پاکستان اسلامي جمهوريت، پنځو کالو لپاره د هند جمهوريت په د شپږ کالو لپاره پرېکړه ده.

۷- دغه پروتوکول د انفاذ نېټه چې (۹۰) ورځو څخه وروسته او سازمان د سکرتريت له خوا صادر کېږي او د قانون مرحلې د تېرېدو نه وروسته د تصويب وړ دی.

۸- دغه پروتوکول ددغي موافقتنامي يو مکمل بخش دی.

دغه پروتوکول د اگست په دریيمه نېټه د ۲۰۰۸ میلادي کال په لسو نسخو کې په انګلیسي ژبه د کولالمپور ښار په سریلانکا چې ټول متنونه یو شان اعتبار لري په امضاء ورسېدل.

ACKU